# د افغانستان معاصر تاریخ

**د تاریخ تعریف:** په لغت کې د عربي ژبې له ( ارخ ) څخه اخیستل سوی دی، د وخت یا نېټې په معنی سره دی. په اصطلاح کې په پرون کې د مادي،شعوري، سلیقه یي تفاوتونو او اختلافاتو څخه د راپیدا سوو حوادثو عملي تحلیل بیانوي.

**په بل عبارت** :سیلي وایي: دپرون ورځې سیاست د نن ورځې تاریخ، او د نن ورځې سیاست د سبا ورځې تاریخ دی، خو تر منځ به یې ۵۰ کاله واټن وي.

په بل عبارت :اینسور وایي: تاریخ د انسانانو د ژوند د تجربو څخه بحث کوي.

سلیقه (په تاریخ کې د حکومتونو د جوړېدو په معني ده).

د خط څخه مخکې دورې: درې ډوله دي ۱. د ډبرو د توږلو دوره ۲. د ډبرو د صیقل دوره ۳. د فلزاتو دوره.

1. **د ډبرو د توږلو دوره:** (له یومیلیون ق. م څخه شروع کېږي.
2. **د ډبرو د صیقل دوره:** له ۱۰۰۰۰ ق. م څخه شروع کېږي.
3. **د فلزاتو دوره:** له ۵۰۰۰ ق.م څخه شروع کېږي بیا تر ۲۳۰۰ ق.م پورې.

**د خط څخه وروسته دورې څلور دي:**

1. **لومړۍ دوره (قرون اولي):** پیل (۳۲۰۰ ق.م)_ پای (۳۹۵ م).
2. **دویمه دوره (قرون وسطي):** پیل (۳۹۵ م)_ پای (۱۴۹۲ م).
3. **درېیمه دوره (قرون جدید):** پیل (۱۴۹۲ م) پای د فرانسې تر انقلاب پورې.
4. **څلورمه دوره (قرون معاصر):** د فرانسې له انقلاب څخه پیلېږي بیا تر نن ورځې پورې.

## د معاصر تاریخ اصطلاح

### د افغانستان معاصر تاریخ:

ځینې وایي چې د افغانستان معاصر تاریخ د احمدشاه بابا له دورې څخه شروع سوی دی دوی وایي چې ځکه د احمدشاه له وخت څخه شروع سوی دی چې د احمدشاه بابا د پاچاهۍ څخه د مخه افغانستان تجزیه سوی وو خو د لوی امپراتور احمدشاه بابا په را تګ سره افغانستان یو موټی سو؛ او ځینې بیا وایي چې د افغانستان معاصر تاریخ د شازمان له دورې څخه شروع سوی دی بیاتر اوسه پورې، هغه تاریخ پوهان چې وایي چې د افغانستان معاصر تاریخ د شاه زمان له وخته څخه شروع سوی دی هغوی هم یو لړ دلایل لري چې هغه دا دي: محمد ابراهیم عطایي وایي چې د افغانستان معاصر تاریخ د شاه زمان د وخت څخه را شروع سوی دی هغه ځکه چې د شاه زمان په وخت کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د انګریزانو سره مخامخ کېږي او بله خبره دا چې د نومورې په دوره کې افغانستان بهرني سیاست ته مخه کوي چې متاسفانه له دې سیاست څخه یې بدې پایلې لرلې.

## دویم څپرکې

### د افغانستان تاریخي جغرافیه:

**تاریخي جغرافیه** : له هغې جغرافیې څخه عبارت ته چې د تاریخي اړخه د یو هیواد حالت او وضعیت څېړي.

دلته به موږ د افغانستان د دریو مهمو نومونو (اریانا، خراسان او افغانستان ) تاریخي سیر و څېړو.

أ. **اریانا:** کله چې اریایان دې خاورې ته دننه سول نو دا خاوره ددوی په نوم یاده سول، دا نوم د لومړي ځل لپاره د (هیرودت) په وسیله په پنځمه میلادي پیړۍ کې د (استرابون) له لوري په ۱۹۲ م کال کې یاد سو، دا نوم د وفادار، اصل، شریف ...معني لري، خو اصلي د بزګر او مالدار په معني راغلي دی.دوی په ۲۵۰۰ ق.م کې اوسني افغانستان ته د آمو سیند له لارې را داخل سول. د آریایانو لومړني ښار چې دوی یې بنسټ کېښېښودی د بخدي ښار نومېدی.

ب. **خراسان:** دا کلیمه د دوو عربي کلیمو څخه ( خ ر، او اسان )څخه اخیستل سوې ده، چې (خ ر) یې د لمر او( اسان) یې د ځای په معني دی یاني د لمر دراختلو ځای. کله چې عربان افغانستان ته راغلل نو دلته اسلام په ډېره اسانۍ سره خپور سو نو په همدې خاطر یې ورباندی دا نوم اینښي دی؛ د ۱۴ میلادي پیړۍ څخه پیل بیا د احمدشاه بابا تر وختونو پوري دا نوم د ټول افغانستان لپاره نه دی استعمال سوی، بلکې د ځینو سیمو لکه بلخ، هرات، غور، بامیان ...لپاره استعمال سوی دی.

ج. **افغانستان** : دا د افغانستان دریم نوم دی دا کلیمه دهغه قبیلې څخه اخیستل سوې ده چې د بابا د غره په لمنو کې یې ژوند کاوه. احمدشاه بابا قومونه سره راټول کړل او هر یوه ته یې خپلې سیمې ورمعلومې کړلې، خوکله چې احمدشاه بابا

هند ته ولاړی دلته یې اقوامو خپلمنځي جنګونه شروع کړل، کله چې احمدشاه بابا د هندوستان څخه راغلي نو د افغانستان نوم یې ورباندی کېښودی او قومي اختلافات یې ورک کړل.

## دریم څپرکي

### د افغانستان پولي( سرحدونه):

**ولي د افغانستان سرحدونه په تاریخ کې وایو؟ سرحدات خو باید په جغرافیه کې وویل سي!**

ځواب :ځکه یې موږ په تاریخ کې وایو چې زموږ پولي او سرحدات د سیاسي لارې(په زور) ټاکل سوي دي. یوازی موږ د چین سره د ۹۴ کیلو متره په اندازه سرحد لرو چې هغه زموږ په خوښه ټاکل سوي دي.

د افغانستان ټوله سرحدونه (۵۸۱۳) کیلو متره دي، چې د هغه د جملې څخه یې (۲۳۸۰) کیلو متره شمالي سرحدونه دي. دافغانستان شمالي پوله د دوو پاچاهانو امیرشېرعلي خان او عبدالرحمن خان لخوا په دریو پړاوونو کې و ټاکل سول.

أ. **د امیرشېرعلي خان کرښه:** کله چې په ۱۷ زیږدیزه پیړۍ کې روسانو د افغانستان شمال خواته لویه امپراتوري جوړه کړل نو په (۱۸۶۵ م) کال کې یې تاشقند او په (۱۸۶۸ م) کال کې یې سمرقند ونیوی او غوښتل یې چې د هندوستان تودو اوبو ته لاره پیدا کړي او تجارت وکړي نو انګریزانو پرېکړه وکړل چې د افغانستان شمالي سرحدونه وټاکي.

ب. **د ریجوی کرښه:** روسانو خپل پرمختګ ته په کوچنۍ اسیا کې دوام ورکړ او ځان یې د افغانستان شمالي سرحدونو ته راورسوی، روسانو په دې وخت کې ایران هم تحریک کاوه چې پر هرات حمله وکړي، نوبې د ریجوی په مشرۍ پلاوی افغانستان ته راواستوی او دغه کرښه یې د ۵۴۰ کیلومتره په اوږدوالي د ذوالفقار له درې څخه تر خم آب پورې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې وټاکل. دې کرښي ته ځکه د ریجوي کرښه وایي چې د انګریزانو د استازي چې ریجوي نومیدی په منځګړیتوب لاسلیک سول.

ج. **د پامیر کرښه:** د پامیر کرښه هم د چین او هم د روسیې سره تړاکل سوېده، روسانو او انګریزانو بله پوله لس کاله وروسته چې د پامیر په نوم یادیږي په (۱۸۹۵ م) کال کې وټاکل، چې ۱۰۰ کیلو متره اوږدوالي لري.

## د افغانستان ختیځ او لوېدیځ سرحدونه

## د ایران سره جنوبي سیمه ( د مکمهان کرښه):

کله چې امیر شېرعلي خان دوهم ځل واک ته ورسېدی نو ایران بیا پر نیمروز( سیستان )حمله وکړل، نژدې وو چې ددواړو هیوادونو تر منځ جګړه پیل سي نو په همدې وخت کې انګریزانو په موضوع کې مداخله وکړل او ایران وویل چې زه بېله انګرېزانو څخه داسیمه ستاسي سره نه ټاکم امیرشیرعلي خان ورسره ومنل، نو پلاوي یې د( فردریک ګولدسمت )تر مشرۍ لاندي وټاکه د افغانستان له لوري سید نورمحمدشاه او د ایران له لوري میرزامعصوم سیمي ته ولاړل نو څېړنې دا جوته کړل چې داسیمه نیمي د افغانستان او نیمي د ایران کېږي، داچې پریکړه زموږ په تاوان وه نو امیرشیرعلي خان ونه منل اوډېر درد ورغلي نو انګریزانو خبره بدله کړل او ویل یې چې زموږ پلاوی خطا وتلی دی، نو بخښنه یې وغوښتل او د جرمانې په توګه یې امیر ته شپاړلس لکه کلداري ورکړلې خو امیر ونه منلې بیا موضوع پاته سول هغه وو چې په (۱۸۸۸م) کال کې امیر عبدالرحمن خان ددې ستونزي د حل لپاره یو ځل بیا د انګریزانو څخه مرسته وغوښتل، داچې عبدالرحمن خان د انګرېزانو نژدې ملګری وو نو داواري پرېکړه د افغانستان په ګټه تمامه سول خو ایرانیانو ونه منل چې بیا د امیر حبیب الله خان په وخت کې په (۱۹۰۲ م) کال کې دغه موضوع یو ځل بیا له ایران سره مطرح سول بیا استازي سره کښېنستل د افغانستان څخه فقیرمحمد خان او د ایران څخه معصوم خان یو ځل بیا پلټنه شروع کړل او په (۱۹۰۵ م) کال کې یې رسمي نقشه راغلل.

(داکرښه د امیرحبیب الله خان په وخت کې په (۱۹۰۵ م) کال کې امضا سول چې ۱۵۰ کیلومتر اوږدوالي لریاو د مکمهان په نامه یادیږي او دملک سیا څخه تر سیاکوه پورې ده).

## د فخري کرښه:

دا کرښه ده ظاهرشاه په شپوکې په (۱۹۴۳ م) کال کې وټاکل سول، ایران ویل موږ انګرېزان د دریمګړي په توګه کښېنوو خو ظاهرشاه ورسره ونه منل او د ترکیې څخه مشهوره او تکړه جغرافیه پوه جنرال فخرالدین التایي چې په افغانستان کې یې څېړني کړي وې راوغوښتي او کرښه امضاء سول، نو داکرښه د فخري په نامه یاده سول.

## شمال ختیځه کرښه:

دا کرښه د چین د سنګ کیانګ آیالت سره تړل سوې ده او ۹۱ کیلومتره اوږدوالي لري.

## د هوتکیانو سلطنت

د افغانستان نوې دوره د هوتکیانو په سلطنت سره پیل کېږي، دا دوره د(۱۷۰۹ م) کال څخه شروع تر (۱۷۳۸ م) کال پوري ده.

**میرویس هوتک** : میرویس نیکه د ښالم خان زوی په کال (۱۴۸ هـ) کي زېږېدلي او په (۱۷۱۵ م) کې وفات سوی دی، دی د بزازۍ سوداګر وو دده په وخت کې افغانستان له دریو خواوو څخه ایرانیانو، شیبانیانو او مغلو(بابریانو ) تر واک لاندی وو.

کله چې په (۱۶۹۷ م) کې شاحسین صفوي په ایران کې واک ته ورسېدی نو کندهار ته یې ګرګین چې د ګرجستان اوسېدونکې وو او نوی مسلمان سوی وو د بېګلر بېګي (مستوفي ) په صفت کندهار ته راواستوی، ګرګین چې دلته راغلي نو

پر خلګو یې مالیات ډېر کړل، خلک د ده د ظلم څخه ډېر ستړي سول نو بیا میرویس خان چې تجار وو خپل تجارت یې وروښو ته ور پرېښودی او د ګرګین

په پټه یې شاحسین صفوي ته خط ور وروا ستوی خو خط شاحسین ته نه وړورسېدی بلکې د ګرګین ورور ته چې د شاحسین په دربار کې دېوان بېګي( دتشریفاتو رئیس )وو، ورسېدی هغه ددې تر مخه چې شاحسین خبر کړي ګرګین ته یې خبر ورکړ چې خلک ستا پر ضد راپورته کېږي نو ګرګین چې مخکې یې هم پر میرویس خان شک درلودی د وروښو سره بندي کړ او په هرات کې یې محکمې ته واستوی، میرویس خان چې پوه سړی وو نو په هغه محکمه کې وایي چې خط ما لیکلي دی ګنهګار زه یم نو زماسره زما ورونه ولي بندیان دي نو بیا د ده ورونه رایله کېږي او دی اصفهان ته استول کېږي کله چې دی د شاه حسین دربار ته ور ولي نو شاحسین صفوي ته وایي چې زه ستاسو په مقابل کې نه یم را پورته سوی ما تا ته خط واستوی چې پر موږ ګرګین مالیات اضافه

کړې دي، شاه حسین ورته وایي چې خط ما ته نه دی رسېدلي نو پلټنه کوي او بیا دې نتیجې ته رسیږي چې د تشریفاتو رئیس چې د

ګرګین ورور وو ده ته خط نه دی سپارلي، نو د تشریفاتو رئیس له دندې لیري کوي، میرویس نیکه د ده په دربار کې ۲ کاله دسیاسي بندی په توګه تېروي نو په دې خت کې شاحسین ته ډېری ښه مشورې ورکوي، او بیا دوه کاله بعد په ایران کې د ایرانیانو د کاروان د مشر په توګه ټاکل کېږي او په حج ته ورسره ځي کله چې حج ته ولاړی نو د هغه ځاي دیني مشرانو ته وایي چې موږ د ایرانیانو د ظلم څخه سخت په عذاب یو نو ایا که د دوی پر وړاندې راپورته سو نو زموږ جنګ به جهاد وي او زموږ شهیدان به غازیان وي که نه؟ نو هغوی ورته وویل چې اوکې ستاسو جنګ جهاد دی او ستاسي شهیدان به غازیان وي بیا چې کله ایران ته د خپل کاروان سره صحیح سلامت راورسېدی نو په ایران کې یې ډېر قدر وسو نو بیا ده شاحسین ته وویل چې زه باید نور خپل وطن ته ولاړ سم ، بیا شاحسین دی کندهار ته د خپل کلانتر ( مشاور او ښاروال) په توګه راواستوی او په مکتوب کې یې ولیکل چې هر کار به ده په مشوره کېږي، کله چې دی کندهار ته ځي نو د ایران څخه تر کندهار پورې پر پښو ځي؛ چې ۴ میاشتې لار ده، میرویس نیکه په ۷ میاشتې کې راغلي ځکه چې پر لارې یې خلک پوه کول چې زماسره د جهاد فتوا ده او باید نور د صفویانو ظلم ته د پای ټکې کښېږدو، کله چې کندهار ته راغلي نو په (۱۷۰۵ م) کال کې جرګه جوړوي هغه ددې لپاره چې پر ده دخلګو ګمان وو چې دی نور د ایرانیانو ملګری سوی دی نو دی خلکو ته وایي چې یازه د ایران ملګری نه یم ما دجهاد فتوا راوړې ده او موږ باید نور د ګرګین ظلمونو ته دپای ټکې کښېږدو، بیا یې په (۱۷۰۷ م) کال کې په معروف او ارغستان کې بله لویه جرګه جوړه کړل او

هغوی ته یې د جنګ تاکتیک ور وښو دی، چې موږ به په (۱۷۰۸ او ۱۷۰۹ م) کلونو کې ستاسې څخه د مالیې غوښتنه وکړو او تاسي یې رد کړی بیا به موږ پر تاسي دحملې پلان ونیسو او تاسي به بېرته سوله راسره وکړی، او بیا به تاسي زموږ ډوډۍ وکړی په داغه شپه به ګرګین ختم کړو.

داغسي وسول او ګرګین د نفرو سره ور ځي یوازې د ده په دربار (نارنج ماڼۍ ) کې ۸۰ کسه ګارډان او په ښار کې ۲۲۰ کسه پاتېږي او نور له ده سره ځي او بیا په شپه کې ورباندې حمله کېږي او ټوله ۲۱۰۰ کسان تر سهار پورې ختموي، بیا دوې یا ۳ شپې هلته پاتېږي او خپل شهیدان ښخوي درې ورځې وروسته د دوی د زغرو او تورو سره راځي کندهارښار ته او پر دانورو ۳۰۰ کسانو حمله کوي او له منځه یې وړي.

دریمه لویه جرګه په (۱۷۰۹ م) کال کې جوړېږي او دی د ملي مشر په توګه ټاکې او شاحسین ته یې خط واستوی چې نور په موږ کار مه لره ځکه موږ اوس خپله دلته واکمنان یو، نو شاحسین بیا ۲۲۰۰۰ پوځ رااستوي او د میریس نیکه سره ۲۰۰۰ پوځ دی نو دوی جګړه کوي او ایرانیان ماتوي او د هرات څخه تر زابل پورې یې خلک د دوی د ظلم څخه خلاص کړل تر (۱۷۱۵ م) کال پورې یې واکمني وکړل او بیا د هډونو د درد له امله وفات سو. روح دې یې ښاد وي.

خلاصه: (میرویس نیکه د ښالم خان زوی په (۱۶۹۳م) کال کې زېږېدلي او په (۱۷۱۵م) کال کې وفات سوی، په (۱۷۰۹م) کال کې واک ته رسېدلي دی او ۷ کاله یې واکمني کړې ده؛ د هوتکیانو واکمني د (۱۷۰۹م) کال څخه شروع تر (۱۷۳۸م) کال پورې وه.

## میرعبدالعزیز

تر ده وروسته د ده ورور میرعزیز له (۱۷۱۵م) کال څخه تر (۱۷۱۷م) کال پورې د هوتکیانو د رئیس په توګه وټاکل سو، هغه یو ډارن او بزدله انسان وو، د ایران د دولت ملاتړ یې کاوه، او نوموړي ایران ته داسي لیکونه واستول چې موږ نور د جنګ څخه ستړي یو، موږ په تاسو کار نلرو، خو تاسي به تر هرات پورې په موږ کار نلری، بیرغ به ستاسو وي او په خطبه کې به ستاسو نوم یادوو ورته یې وویل که زما شرطونه قبول کړی نو زه به بیا کندهار تاسو ته وسپارم، صفویانو دا رازونه افشا کړل، نو بیا د میرویس نیکه زوی او ځیني نورو کسانو میرعبدالعزیز ووژی، او شاه محمود واک ته ورسېدی.

## شاه محمود هوتکي

شاه محمود چې اصلي نوم یې میر محمود او دمیرویس خان نیکه زوی چې د ۱۹ کلونو په عمر په (۱۷۱۷م) کال کې یې د میر عبدالعزیز د قتل څخه وروسته د پاچاهۍ اعلان وکړ او د شاه محمود هوتکي په نامه قدرت ته ورسېدی خپل لښکر یې اماده کړی او د پلار د ارمان د پوره کولو لپاره یې پر ایران حمله وکړل، او اصفهان ته ورسېدی بیا یې د اصفهان پادشاه ته د سولي وړاندیز وکړی خو هغو ونه مني، هغه وو چې پر اصفهان یې حمله وکړل.
اصفهان یې ۸ میاشتي محاصره کې او تر ۸ میاشتي محاصرې وروسته یې اصفهان ونیوی، او صفوي دولت یې تسلیم کړ او بیا شاهحسین صفوي د اکتوبر پر ۲۳ د خپلو درباریانو سره شاه محمود ته تسلیم سول، او تر تسلیمېدو وروسته شاه حسین صفوي شاه محمود ته وویل ! نور لکه چې د خدای دانه وه راباندی ییرزو چې زه پاچاهي وکړم نو بیا د اکتوبر پر۴۶ د اصفهان ښار ته ننوتي او د پاچاهۍ پر تخت کښېنستي.
ده په ایران کې د قحطۍ پر وړاندی ډېر ژر اقدام وکړ او هغه کسان چې غذایي مواد یې زخیره کړی وه تر څو ګران یې خرڅ کې هغوی یې په سزا ورسول، او د ایران په هر ماموریت کې یې یو، یو افغان مامور وټاکي، خپلو عسکرو ته یې وویل چې د هیڅ ډول زور زیاتي څخه کار مه اخلي د ده د عدل دې نتیجې ته رسېدلي وو چې نور نو د افغان او ایراني فرق نه کېدي.
شاه محمود وه کندهار ته ۱۵۰۰۰۰ روپیو تر استولو وروسته او هغه پر لاري غلاکېدل او د ایران پر ځینو سیمو د روسانو بریدونه ددې لامل سول چې ده ته یې د اعصابو ټکان ورکړی په ۲۷ کلنۍ کې مړسو.
خلاصه: (شاه محمود په ۱۹ کلنۍ کې واک ته ورسېدي او په ۲۷ کلنۍ کې وفات سو)

## د احمدشاه دراني د واکمنۍ دوره

## (۱۷۴۷م- ۱۷۷۳م)

احمدشاه بابا د زمان خان زوی د دولت خان لمسي او د سرمست خان کړوسي دی. احمدشاه بابا په (۱۷۲۲م) کال کې زېږېدلي دی. کله چې نادر افشار په (۱۷۴۶م) کال کې یو څه استراحت کوی، نو اغامحمد قاجاري او کریم زند ورباندي حمله کوي او وژني یې، دلته احمدشاه بابا چې د نادر افشار د ګارډ مشر وو خبرېږی او د نادر کورنۍ تهران ته بیایي د نادر افشار مېرمن د ده د وفادارۍ په خاطر ده ته یوڅه زېورات ورکوي او د نادر افشار پوځ ده ته ده هرات څخه تر کندهاره چې دی راتلي، ور ته سلامۍ کوي او په (۱۷۴۷م) کال کې کندهار ته راځي دلته قومونه د شیرسرخ په سیمه کې د نادر د فوځ او کور څخه لیرې سره راټولوي او ورته وایي چې نور باید پر ایران واکمني وکړو، او یوه لویه جرګه یې

**د ۹ ورځولپاره جوړه کړل، او ویې ویل چې باید یو واکمن وټاکو هر قوم غوښتل چې ځان قدرت ورسوي خو نه سره جوړیدل وروسته واک د شیرسرخ د زیارت ملنگ صابرشاه ته ورکول کیږي او صابرشاه د ۲ ورځو په جریان کې خلکو ته قناعت ور کوي او ورته وایي چې احمدخان هغه څوک دی چې د هوتکیانو دوره یې لیدلې ده په هند کې جنگیدلي دی، فوځي افسردی او بیا یي ورته وویل چې تاسي ټول دور (ملغلري) یاست خو دی ستاسو په منځ کې دوري دوران (دملغلرو ملغلره ) دی نو په همدې شکل سره احمدشاه بابا په (۱۷۴۷ م) کال کې واک ته ورسیدی.**

**احمدشاه بابا ۹کسیزه شورا جوړه کړل او هغه اقوام چې ډیري رایي یې وړي وې سره راټول کړل او شورا (پارلمان )یې ور څخه جوړ کړی چې ورته مقننه قوه ویلای سو، نوموړي قاضي القضات وټاکي او ورته یې وویل چې ته به ماته مشورې راکوې چې په دې سره یې قضایه قوه رامنځ ته کړل . ۳ غټې مدرسې یې جوړی کړلې او اجرایه قوه یې په خپل لاس کې واخیستل. بیا یې هیوادونو ته خطونه واستول چې افغانانو ته په خپله خوښه ازادی ورکړئ.**

**د ۲ کلونو په جریان کې یې ۲۲۰۰۰ رسمي فوځ په دریو برخو اول پیاده دوهم توپچې او دریم توره وال جوړ کړل او په (۱۷۵۷ م) کال کې یې ۶۹۰۰۰ زره غیري رسمي فوځ جوړ کړی دافوځ ته یې تنخوا نه ورکول دا ۶۹۰۰۰ فوځ چې به هر ځای وجنگیدل او بریالي به سول نو دوی ته به یې مځکې ور کولې مثال عینوکاریز او نور... احمد شاه بابا دلته اداره جوړه کړل، داسي نظامنامه یې جوړه کړل ویل که هر څوک د نظام په وړاندی ودریدل نو سزا به ورکول کیږي، د کندهار ښار یې تر (۱۷۵۷ م) کال پوري جوړکړ او اقوامو ته یې مځکې ورکړې مثال د نورزو کوڅه، یحیي خان کوڅه اونور...، خو دا قومونه خپل په منځ کې نه سره جوړیدل، نو احمدشاه بابا په (۱۷۵۸ م) کال کې ددې قومي شخړو د له منځه وړلو لپاره پر خراسان باندې د افغانستان نوم کیښودي.**

**احمدشاه بابا خپل سرحدات پر دریو برخو ووېشل، د کندهار، هرات، مزار شریف او نور لوی، لوی ښارونه یې جوړ کړل**

**د هغه پوښتنو ځواب چې په هندهیواد کې د افغانستان د محصلینو څخه کیږي چې وایي، احمدشاه بابا ولي پر هندوستان حمله وکړل؟**

**ځواب :افغانستان له ( ۱۵۰۰ م) کال څخه تر (۱۷۴۷ م) کال پورې د مغلو لخوا مستعمره وو او پر افغانستان یې په (۱۵۰۶ م) کال کې حمله کړې وه چې دا د هندوستان لخوا څخه وه. نو بیا هغوي ولي پر موږ حمله کړې وه او موږ هم وربانذی حمله وکړل، او بل موږ پر دوی حمله نه ده کړې هلته په هندوستان کې مسلمانان د مرهټیانو د ظلم څخه سترې سوي وه، د هغه ځای مسلمانانو احمدشاه بابا ته وویل چې موږ ددې ظلم څخه خلاص کړه، نو بیا هغه وو چې احمدشاه بابا هندوستان ته مخه کړل؛ احمدشاه بابا ۴ ودونه کړی وه او ۷ زامن یې درلودل. لکه: سلېمان شاه، تیمورشا، یزدان بخش، فیروز، دراب، سنجر، سکندر او شهاب چې په دوی کې یې ۲ زامنو لکه- سلیمان شاه او تیمورشاه واک کړی دی . سلېمان شاه یوازی ۲ میاشتې واک تر لاسه کړی دی، د تیمورشاه اولادونه: تیمور شاه ۱۰ ودونه کړي وه ۲۴ زامن او ۱۰ لوڼې یې درلودلې، د نوموړي هغه زامن چې واک ته رسیدلي دي دادي: شاه محمود، شاه زمان، فیرزالدین، شاه شجاع او ایوب خان.**

**د شاه شجاع زامن: نادر، تیمور، سفدرجنگ، فتح جنگ او شاپور. چې په دوی کې یې تیمور او نادر ۸ میاشتې وروسته د پلار د مرگ څخه واک ته رسیدلي دي. شازمان یو زوی درلودی، قیصراو شاه محمود دوه زامن لرل، کامران او جهانگیر.**

## تېمورشاه

تیمورشاه په (۱۷۴۶ م) کال کې د ډیسمبر پر ۲۲ پیداسوی دی او په (۱۷۷۳ م) کې واک ته رسېدلي دی ۲۰ کاله یې واکمني کړې ده، پایتخت یې په (۱۷۷۳ م) کال کې کابل ته وړی دی او په (۱۷۹۳ م) کال کې وفات سوی دی. احمدشاه بابا په (۱۷۶۰ م) کال کې په جرګه کې دا وویل چې زما دوهم زوی تیمورشاه به زما ولیعهد وي ځکه اول زوی سلېمان شاه یي ډېر سخت زړی انسان وو.

په دې شېو کې تېمور شاه د ۱۴ کالو وو بیا په (۱۷۶۲ م) کال کې دپیښور جرګې ته واستول سو تر (۱۷۷۰ م) کال پورې او پلار یې ورته وویل چې ته باید د خلکو خبرو ته غوږ ونیسې او سیاست زده کړې، تېمورشاه د پیښور څخه تر راستنېدلو ورسته راځي او په هرات کې والي کېږي، کله چې احمدشاه بابا په (۱۷۷۳ م) کال کې وفات کېږي نو دی د هرات څخه ژر وه کندهار ته نسي راتلای او بیا وزیر شاولي خان راولاړیږي او شازمان ټاکې او په دې خبره تیمورشاه خبریږي، او د وزیرشاولي خان د نیولو امر کوي، او بیا وزیر شاولي خان او دهغه زوی وژني، په دې کارسره ۹کسیزه شورا د ده څخه خفه کېږي، او د وزیر کورنۍ هم دده په مقابل کې دریږي ده چې داحالت ولیدی نو نور یې دلته ګزاره نه سوای کولای نو پایتخت یي کابل ته یو وړی. ده په خپل وخت کې دهرات جامع جوړه کړل، د مزارشریف روضه یې جوړه کړل او د خپل پلار روضه یې جوړه کړل، درې جنګونه دده په وخت کې سوي دي په پنجاب، ایران او دریم په کندهار کې بیرته شارخ میرزا ته ماتي ورکوی . په پنجاب کې یې د فوځ مشر سردار مدد خان وو

دوې ستري غلطۍ یې کړی دی اول داچې وزیر شاه ولي خان او د هغه زوی یې ووژل او دوهم داچې د مرګ ترپایه یې خپل ولیعهد ونه ټاکې ځکه یي ونه ټاکي چې دده زامن د ډېرو غټو کورنیو خوریان وه.

# د زمان شاه سلطنت

# ( له ۱۷۹۳ م کال څخه تر ۱۸۰۰ م کال پورې)

# د شا محمود د سلطنت لومړۍ دوره

شاه محمود دوه ځله واکمني کړې ده لومړۍ دوره یې له ۱۸۰۰ م څخه تر ۱۸۰۳ م پورې دوام وکړ او دوهمه دوره یې له ۱۸۰۹ څخه تر ۱۸۱۸ م پورې دوام وکړ.

**د شاه محمود لومړۍ واکمني:** شاه محمودد تیمورشاه زوی او د احمدشاه بابا لمسي دی د پلار د واکمنۍ پر مهال د هرات والي وو کله چې یې پلار مړ سو نو د اولادونو تر منځ یې د واک پر سر اختلافات راغلل همایون او محمود چې په عمر تر ده مشران وه، غوښتل یې چې واک ته ورسیږي خو کله چې شاه زمان خپله پاچاهي اعلان کړل نو دوی د شاه زمان سره مخالفت اعلان کړ په پای کې همایون په سترګو ړوند کړل سو، نوموړی د ایران او وزیر فتح خان په همکارۍ دلومړي ځل لپاره واک ته ورسېدی، د ده په وخت کې سیکانو هم خپله واکمني په پنجاب کې اعلان کړل ایرانیانو هم څو ځله پر افغانستان حمله وکړل وزیر فتح خان ټول واک په لاس کې واخیست ، ازبکو د افغانستان پر شمالي سیمو خپل بریدونه پیل کړل دا پاڅونونه ددې لامل سول چې شاه شجاع د پېښور د

لاری راسي او حمله وکړي، او ان تر دې چې شېر احمد خان هم د شاه شجاع سره یو ځای سو او په پای کې شاه محمود د واک څخه لرې سو او شاه شجاع واک ته ورسېدی.

## د شاه شجاع د سلطنت دوره

## (د شاه شجاع لومړی ځل واکمني د ۱۸۰۳ م څخه تر ۱۸۰۹ م کال پورې)

## د شاه محمود د سلطنت دوهمه دوره (له ۱۸۰۹ م څخه تر ۱۸۱۸ م کال پورې)

**دوهم ځل شاه محمود و وزیر فتح خان او ایران په کومک او د هرات په مالیاتو واک ته ورسېدی، کله چې دی دوهم ځل واک ته ورسېدی نو وزیر فتح خان خپل ورونه والیان کړل دایې یوه سوئ استفاده وکړل بیا د شاه محمود زوی کامران خپل پلار ته وویل دا کار چې دی کوی دا زموږ په تاوان دی خو پلار یې د وزیر په واسطه واک ته ورسېدلي وو نو وه یې ویل چې پروانه کوي، وروسته شاه شجاع د انګریزانو په واسطه پر پېښور حمله وکړل او بیا سلطان احمد خان طلایي پیښور ورڅخه ونیوی، ایران په هرات کې دمالیاتو د ورکولو څخه انکار وکړ، نو وزیر فتح خان ورځي او د فېروز الدین سره یو څه ناکې کوی او کندهار ته یې رااستوي وایي چې ته ولي دومره کمزوری یې چې تا د ایران دفاع ونه کړل او شامحمود ته خبر ورکوي چې راسه هرات مي بېرته ورڅخه ونیوی او خپلواکې به یې ولمانځو، شاه محمود راځي کندهار ته او غواړي چې د کندهار د لاري هرات ته ولاړ سي خو چې کندهار ته راغلي نو فېروز الدین یې ولیدی ویل ته دلته څه کوي، نو فېروز الدین ورته خپله کېسه وکړل بیا دی خپل زوی کامران هرات ته استوي او ورته وایي چې ورسه د وزیر فتح خان وروڼو ته سبق ورکړه، کله چې کامران هرات ته ولاړی نو هلته یې وزیر فتح خان په سترګو ړوند کړ، او راغلي کندهار ته ،داخبر یې پلار ته ورکړ، پلار یې ورته وویل چې ما تا ته ویلي وه چې ورسه دده وروڼه وټکوه او تادی په سترګو ړوند کړ، نو دلته ګډوډي رامنځ ته کیږي او بیا یې ورونه او محمد اعظم خان دده په مقابل کې دریږي او وزیر فتح خان وژل کیږي، ایوب شاه، محمد اعظم خان واکمن ټاکې او خپل ځان صدراعظم ټاکې.**

## د امیردوست محمد خان د واکمنۍ دوره

## (له (۱۸۲۴ م) کال څخه تر (۱۸۳۵ م) کال پورې د حکمرانۍ دوره ده؛ او تر (۱۸۳۹ م) کال پوري یې د امارات دوره ده):

**تېر درس او راتلونکې در ته لنډه کتنه:**

**(د شامحمو دوهمه دوره په (۱۸۱۸ م) کې ختمیږی، په (۱۸۲۹م) کې فېروز الدین وژل کیږي، په (۱۸۴۲ م) کې هرات د افغانستان یو جز بلل کیږي او به (۱۸۴۲ م) کې امیردوست محمد خان واک ته رسیږي ایوب شاه په خدایي مرګ مړ کیږي بیا د یو کال لپاره سلطان محمد خان واک ته رسیږی، او وروسته امیردوست محمد خان واک ته رسیږی تر (۱۸۳۹ م) پوري بیا په (۱۸۳۹ م) کال کې انګریزانو د اګسټ په میاشت کې پر افغانستان د لومړی ځل لپاره یرغل کوی تر (۱۸۴۲ م) کال تر جنوری پوري بیا شاه شجاع واک ته رسیږي.**

**مخکې د بارګزو او سدوزو حالت څنګه وو په خپل منځ کې؟**

**جمال نیکه د احمدشاه بابا په وخت کې د ۹ کسیزی شورا ریس وټاکل سو سردار پاینده محمد خان د (جمال نیکه زوی) ښه اړیکې لرلي د سدوزو سره بیا نو هغه وو چې یو څه سره په جنګ اخته سول ځکه کامران راولاړ سو وزیر فتیح خان یې په هرات کې په (۱۸۱۷ م) کال کې په سترګو ړوند کړ او د سدوزو څخه بارګزو ته واک واوښتئ.**

## د سدوزو څخه بارګزو ته د واک اوښتل دوه علتونه لرل:

1. د سدوزو د کورنۍ خود اختیاري چې د شورا خبرو ته یې غوږ نه ایښنودی.
2. د انګریزانو لاسوهنه.

### امیر دوست محمد خان (له ۱۸۲۴ م کال څخه تر ۱۸۳۹ م پورې):

(د ده واکمني پر ۲ دورو باندی وېشلای سو ځکه چې اوله یې د حکمرانۍ دوره وه او تر ۱۸۳۵م کال پوري یې دوام وکړ، او دوهمه یې د امارت دوره وه چې تر ۱۸۳۹ م کال پورې وه.)

(د ۱۸۱۸م کال څخه تر ۱۸۲۴م کال پوري هیڅ نوټ نه دی نیول سوی ځکه دلته د یوې غټې کورنۍ څخه بلي غټې کورنۍ ته واک واوښتي).

امیردوست محمد خان د سردار فاینده محمد خان زوی او د جمال نیکه لمسي دی ۲۴ وروڼه یې درلودل او دی خپله یوخت د کابل والي وو ، نوموړي کرار، کرار خپل حکومت وغځوی او تر (۱۸۳۰ م) کال پوري پرته له هرات څخه نور ټول ښارونه ونیول. د بلي خوا انګریزانو شاه شجاع ته ۵۰۰۰ پونډه ورکول تر څو چې زړه یې وغواړي نو د افغانستان حکومت چپه کړي او انګرېزانو به شاه شجاع ته ویل چې سیکانو ته د دوستۍ لاس ورکړه.

د امیر دوست محمد خان په دوره کې دوه جنګونه وسول:

1. شاه شجاع په (۱۸۳۳ م) کال کې پر کندهار حمله وکړل او ماته یې وخوړل.
2. سلطان طلایي هم په (۱۸۳۳ م) کال کې پر پېښور حمله وکړل او ماته یې وخوړل.

دامیر دوست محمد خان د دوهمې دورې (امارت دوره) په شپو کې انګرېزانو هندوستان ونیوی، دواړی غټې امپراتورۍ (انګرېزان او روسان )رانژدې سوی وه نو ځکه ده د تړون په خاطر په (۱۸۳۳ م) کال کې لیکونه واستول او د ده د خطونو ځواب په (۱۸۳۷ م) کال کې کله چې انګرېزان دده څخه په وهم کې سول راورسېدی. په هندوستان کې د انګرېزانو مشر لارډ ایکلنډ وو او د افغانستان لپاره یې ۳ استازي کفتان وید، برنس او مکناټن وه، کله چې سیکان په پنجاب کې راپورته سول نو امیردوست محمد خان علماوو ته وایي چې ماته د جهاد فتوا راکړی، علما ورته وایي چې موږ تا ته څنګه د جهاد فتوا درکړو ته خو د څوکۍ لپاره جنګیږی،نو دی لوړه کوي او ورته وایي چې زه نور د څوکۍ لپاره نه جنګیږم، نو عالمانو ورته فتوا ورکړل او د دوو میاشتو په جریان کې یې ۱۳۰۰۰ منظم پوځ جوړ کړ او په (۱۸۳۶ م) کال کې یې پر پنجاب حمله وکړل، انګرېزانو چې دا حالت ولیدی، نو په وېره کې سول او د لیکونو خبره یې راپورته کړل نو، په همدې کال د انګرېزانو لومړی استازی برنس افغانستان ته راغلي، امیر دوست محمد خان په دې امید وو چې بېرته به سیکان زما تابع کړي خو په جرګه کې برنس ټولي خبري پر تجارتي مسایلو وکړلې کله چې جرګه خلاصه سول نو بیا یې د پردې تر شاه د امیردوست محمد خان سره د پنجاب خبرې شریکي کړلې او امیر ته یې وویل چې موږ ددې لپاره راغلي یو چې ستاسو او د سیکانو ترمنځ جنګ مطالعه کړو برنس ۸ میاشتي تیری کړلې ، دانو هغه وخت دی د داغه کال د جون په میاشتي کې روسیه هم ناخبره افغانستان ته خپل استازی رااستوي د ویکوویچ په نامه (دا په سیاسي لحاظ د افغانستان لپاره لومړني استازی دی) ویکو ویچ بیا وایي چې تاسو باید پر سیکانو حمله وکړی موږ هم ددې لپاره راغلي یو، امیر داخبري ټولي انګریزي استازو ته کوي او بیا ویکوویچ بېرته ځي خو تر وتلو مخکې په هرات کې نابېره وژل کیږي، او

برنس هم د انګریزانو لومړی کس دی چې وژل کیږي. ځکه چې برنس وایي چې زه انګریزانو استعمال کړم ، او یا شاید کفتان وید زما معلومات سرچپه وړل هندوستان ته ځکه چې کفتان وید د شاه شجاع ملګری وو.

## د مثلث تړون

په (۱۸۳۸ م) کال کې د جولای د میاشتي پر ۲۵ تاریخ د مثلث تړون دددریو نفرو (شاه شجاع، رنجیت سینګ او مکناټن) لخوا امضا کیږي او دا خبري پکښې وې:

1. شاشجاع ته یې ویل چې ستا سره ۱۲۰۰۰ سیکان ځي خو ته به د پنجاب ازادي په رسمیت پیژنې .
2. انګریزانو ویل موږ هم ۵۵۰۰۰ فوځ در کوو خو شرط مو دادی چې د تګ او بېرته راتګ ټول مصارف به ته ورکوې.

یادونه: باید په یاد ولرو چې دا تړون هیڅ حقوقي ارزښت نلري ځکه د شاه شجاع سره د اولس اکثریت ملاتړ نه وو، برحاله حاکم نه وو او دا تړون غیري اصولي وو بیا چې د ا تړون و سو نو په داغه کال د اګست په میاشت کې د سملې اعلامیه هم خپره سول.

## د سملې اعلامیه

دا اعلامیه په (۱۸۳۸ م) کال کې د اګست په میاشت کې خپره سول او درې خبري پکښې کې وې:

1. د انګریزانو دوستي د هندوستان سره.
2. د انګریزانو ملاتړ د سیکانو څخه.
3. امیر دوست محمد خان د روسانو څخه کومک غواړی نو د هندوستان څخه زموږ دفاع او په همدې خاطر پر افغانستان حمله.

## د انګریزانو لومړني یرغل اړ د شاه شجاع د پادشاهۍ دویمه دوره
## (له ۱۸۳۹ م کال څخه تر ۱۸۴۲ م کال پورې)

(په انګلستان کې ۳ ډوله پالیسیاني جوړې سولې:

1) فار ورډ پالیسي (باید له هندوستان څخه دفاع وکړو او د افغانستان له لاري په شمالي سیمو کې به وه اوسو).
2) بک وارډ پالیسي ( انګریزانو ویل چې موږ باید د سیکانو په سیمه کې و اوسو او افغانان اکمال کړو د روسانو په مقابل کې، که چېری روسان پنجاب ته راورسېدل نو بیا به سیکان پر پښو ورته ودروو.
3) د سدحدونو د علمي سیاست پالیسي: انګریزانو ویل چې موږ ولې خپل پوځیان و وژنو، اول به افغانان اکمال کړو بیا به سیکان اکمال کړو او په دریم قدم کې به یې په هندوستان کې موږ دفاع وکړو. نو لارډ ایکلنډ د فار ورډ پالیسۍ طرفداره وو او ویل یې چې موږ د روسانو څخه باید په افغانستان کې دفاع وکړو.

کله چې دا تړون وسو نو هغه وو چې ۵۵۰۰۰ انګریزان او ۱۲۰۰۰ سیکان پر دوو برخو و وېشل سول او په ۱۸۳۹ م کال کې ۴۴۰۰۰ انګریزانو او ۳۰۰۰ سیکانو د کندهار له لاري حمله وکړل او ۱۳۰۰۰ انګریزانو او ۳۰۰۰ سیکانو د پېښور له لارې په جنوري کې حمله وکړل او تر غزني پوري ورسېدل په غزني کې ورسره جنګ وسو او پر **۱۷ د اګست ۱۸۳۹م کال کابل** ته ورسېدل او کابل یې ونیوی، ۵۰۰۰ انګریزانو د شاه شجاع امنیت ساتي او پاته نور یې په کابل ، کندهار او غزني کې پاته سول

د شاه شجاع واکونه تقریباً ۶ میاشتي چلېدل ، موهن لال د استخباراتو د رئیس ، مکناټن د لومړي وزیر او برنس د کورنیوچارو د
وزیر په توګه دنده تر سره کول بیا امین خان لوګری ، عبدالله جان اڅکزی او سردار شمس الدین را پورته کیږي نو انګریزان شاه شجاع ته وایي چې دوی د سیاسي بندیانو په حیث د ملک څخه وشړه، شاه شجاع دوی ته خبر ورکوي او ورته وایي چې انګریزانو ستاسو په اړه دا تصمیم نیولي دی او زه هیڅ کولای نسم ځکه زما هیڅ واک په لاس کې نه دی نو دوی ورته وایي چې سمه ده موږ وزو خو موږ ته ۴ میاشتي وخت راکه چې ټول کوچنیان او خپل شیان د هیواد څخه وباسو، دا څلور میاشتي انګریزانو ته سرخوږی سو نو د (۱۸۴۱ م) کال د نومبر پر ۲ اول د برنس پر کور حمله کېږ او برنس او ورونه یې په دی حمله کې وژل کیږي وسلې او نور مهمات غازیانو ته په لاس ورغلل یوازی دوه ځایه پاته سول او عبدالله خان اڅکزی هم ټپي کیږي، عبدالله خان په ټپي حالت کې خپلو غازیانو ته وایي چې که غواړی چې د کندهار او جلال اباد څخه قوه ر انسي نو مه ځي کورونو ته، ورسته د سختو ټپونو له امله ساه ورکوي، دا جنګ د نومبر تر ۲۰ پوري دوام کوي او وزیر محمد اکبرخان واک په لاس کې اخلي نو د نومبرپر ۲۱ باندی انګریزانو دسولې شرایط غوره کړل، دا شرایط یو اړخیز وه او دوی ویل چې:
(موږ شاه شجاع د ځان سره باسو او تاسي به ۱۰ لکه روپې ورکوی او موږ خپلې ټولي وسلې باسو او ۱۲ سیاسي بندیان هم راسره باسو) ، نو وزیر محمد اکبر خان ورته برعکس خبره وکړل ویل یې چې: داتړون د اشخاصو نه دی د ا ددولتونو دی شاه شجاع ته پیسې نه ورکوو، تاسي به وزی او ۱۵۰ بندیان به ماته راپرېږدی، ټولې وسلې به غازیانو ته ورسپاری یوازی ۶ توفونه به وړی د ځان سره خو بیا هم مکناټن کرار نه کښېني او حبیب الله خان ته وایي چې اکبر خان مړ کړه نو موږ به تاته ۲ لکه روپۍ درکړو برعکس اکبرخان ته هم دغه خبره کوي بیا دوی یوه جرګه جوړوي ، او مکناټن هم دلته ګډون کوي او مکناټن وژني ، خو انګریزان هیڅ هم نه وایي ځکه انګریزان وایي چې دی پر غلط فکر روان دی ډاکټر براډن وایي کله چې دا تړون وسو نو تر ۶ جنوري ۱۸۴۲ پوري یې انګریزانو ته وخت ورکړ او ورته وه یې ویل چې شرایط باید په پام کې ونیسي، او د کابل قوه به حرکت کوي او نور باید جلا، جلا حرکت وکړی.
بیا اکبرخا ن ویني چې هغه ۶ توفونه ۱۲ سوي دي نو ورته وایي چې دا مه وړی ستاسو تاوان دی خو که دا وړی نو خپل فامیلونه پرېږدی، بیا جنګ شروع سو او ۳۰۰ کسان ووژل سول د جنوری تر ۹ پوري جنګ دوام کوي او ټول انګریزان وژل کیږي، خو یو نفر(ډاکټر براېډن )ژوندی پاتیږي ځکه یې دی ژوندی پرېښودی چې ویل ورسه هغه نوري قواوي مو هم خبري کړه چې تر ۱۵ تاریخ پوري ټول انګریزان ووزي ، خو پر ۱۹ د جنوري داخلي حالات لړ بدلیږي او شاه شجاع محمد اکبر خان ته وایي چې جهاد اعلان کړه اول یې ورسره ومنل خو کله چې حرکت کوي نو شاه شجاع وژل کیږي او وزیر محمد اکبرخان ۸ میاشتي واکمني کوي، انګریزان د (۱۸۴۲ م) کال د جنوری په میاشت کې بیرته راغلل او خپل بندیان یې و ایستل، ښارونه یې وسوځول او بیرته پر ۱ د اکتوبر ووزي او وزیر محمد اکبر خان په (۱۸۴۳ م) کال کې د یو طبیب په وسیله وژل کیږي، او له دې څخه وروسته امیر دوست محمد خان د وزیر محمد اکبر خان پلار واک ته رسیږي او ۲۰ کاله پاچاهي کوي.

## د امیر دوست محمد خان د واکمني دویمه دوره

## ( له ۱۸۴۳ م کال څخه تر ۱۸۶۳ م کال پوري )

محمد اکبرخان د پلار د پلان په واسطه وژل کیږي، او په کندهار کې یې بل ورور راپورته کیږي امیردوست محمد خان غوښتل چې پر کندهار حمله وکړي خو انګریزانو ورته وویل چې حمله مه کوه، امیردوست محمد خان انګریزانو ته وایي چې زما سره کومک وکړی، تر څو زه کندهار ونیسم، نو انګریزانو د امیر سره د جمرود لومړی تړون امضا کړ.

## د جمرود اول تړون (د کندهار د نیولو تړون)
## (د مارچ ۲۰ تاریخ ۱۸۵۵ م کال)

**دا تړون د امیردوست محمد خان د زوی غلام حیدر خان په واسطه د پاکستان د جمرود په سیمه کې د انگریزانو سره امضاء سول.**

**دې تړون ۳ مادې لرلې:**

1) **د دواړو هیوادونو ترمنځ سوله (انگریزانو ویل چې: موږ نور حمله نه کوو خو تاسو به هم تعرض نه کوی).**
2) **هغه سیمې چې د امیر تر تصرف لاندي دي موږ به ورته احترام کوو او هغه سیمي چې زموږ تر تصرف لاندي دي تاسي به ورته احترام کوی.**
3) **د انگریزانو دوست به ستاسو دوست وي او د انگریزانو دوښمن به ستاسو دوښمن وي (دوست یې ایران وو دوښمن یې روسیه وه).**

**نو بیا یې د کندهار د نیولو لپاره ۶ لکه روپۍ او ۶۰۰۰ توپکونه ورکړل او ورته وه یې ویل چې اوس نو پر کندهار حمله وکړه نو هغه وو چې کندهار یې ونیوی بیا امیر ورته وویل چې باید هرات هم ونیسم نو انگریزانو ورځخه د بیا تړون غوښتنه وکړل، اود جمرود په نامه دوهم تړون ورسره امضاء سو.**

## د جمرود دوهم تړون (د هرات د نیولو تړون)
## (د جنورۍ ۲۶ تاریخ ۱۸۵۷ م کال)

### دلته هم ۳ مادې وې:

1) **د هرات د نیولو امر (د هرات د نیولو جواز).**
2) **امیر نسي کولای چې بېله انگریزانو د هیڅ هیواد سره سیاسي اړیکې ولري.**
3) 

**د کندهار د نیولو لپاره یې ۶۰۰۰ توپکونه ورکړل خو د هرات د نیولو لپاره یې ۱۲ لکه هندۍ روپۍ او ۶۰۰۰ توپکونه ورکړه (نو دلته مو زموږ د هیواد سیاسي ازادي هم د لاسه ورکړل ځکه زمیني ازادي خو مو د گندمک په تړون کې چې په (۱۸۷۹ م) کال کې د مي پر ۲۶ نېټه چې د امیرمحمد یعقوب خان لخوا ورسره امضا سو، د لاسه ورکړل او په (۱۸۱۸ م) کال کې چې مو هرات د لاسه ورکړی وو بیرته په (۱۸۶۱ م) کال کې د افغانستان سیمه سول. لنډه دا چې امیر دوست محمد خان په کال (۱۸۶۳ م) کال کې په هرات کې د جون د میاشتي پر ۹ تاریخ وفات کیږي او امیر شیرعلي خان د خپلو ورونو سره ځي او کابل نیسي.**

## امیر شیرعلي خان اوله واکمني (۳ کاله)
## اوله واکمني ( له ۱۸۶۳ م کال ځخه تر ۱۸۶۶ م کال پورې)

**مهم نقات: امیر شیرعلي خان ولي د خپل پلار لخوا ولیعهد وټاکل سو حال دا چې ده خو ۶ نور وروڼه هم لرل؟**

**ځواب:**

1) **په کندهار کې یې سوله راوستل.**
2) **د پلار سره یې کومک کوی.**
3) **د هرات جنگ یې په سوله واړوی.**

**نو ځکه یې دی ولیعهد ټاکل کیږي، کله چې یې پلار په (۱۸۶۳م) کال کې وفات سو نو ده خپله واکمني اعلان کړل خو ورونو یې نه غوښتل چې دی واک ته ورسیږي، ورسته یې د خپل پاچاهۍ خبر انگریزانوته ورکړ، خو انگریزانو په رسمیت ونه**

پیژندی ویل یې که مو په رسمیت وپیژندی نو دا په دې معنی چې موږ خپل دښمن واک ته ورسوی نو بیا انگریزانو پلان بسته کړی چې څنگه بیرته پر افغانستان حمله وکړي؟ نو اعظم خان ورڅخه د پکتیا په زرمت کې جلاسو، امین خان ورڅخه په کندهار کې جل سو او افضل خان په مزار کې ورڅخه جلا سو اول یې پر پکتیا حمله وکړل او اعظم خان انگریزانوته پناه یو وړل، بیا رحمت الله خان خپل لمسي قیصر پکتیا ته واستوی نو افضل ورته وویل چې زه د مزار شریف مالیات نه درکوم بیا افضل خان او عبدالرحمن خان په مزار کې شکست خوري دریم واري وایي چې په (۱۸۶۵ م) کال کې غواړم کندهار ونیسم او خپل زوی محمد علي خان ته وایي چې ورسه اکا دي راضي کړه چې زموږ سره یو ځای سي، زوی او ورور یې دواړه وژل کیږي نو دی په عصبي تکلیف اخته کیږي، وروسته د چپلي د تېرولو لپاره د خرقې شریفې په کښته مسجد کې د ۴۰ ورځو لپاره راځي، په دې وخت کې د افضل خان زوی راځي پر کابل حمله کوي او ده ته وایي چې زما پلار ایله کړه، دی جنگ ورسره کوي او شکست خوري او افضل خان واک ته رسیږي ( په دې ټولو کارونو کې د عبدالرحمن خان لاس وو چې پلار یې واک ته ورسوی)د ده په وخت کې درې جنگونه وسول، افضل خان په مزار کې، اعظم خان په پکتیا کې او امین خان په کندهار کې.

## امیر محمد افضل خان (له ۱۸۶۶ څخه تر ۱۸۶۷ پوري)

دامیر دوست محمد خان زوی یو کال واک کړی دی نوموړی د خپل زوی عبدالرحمن خان په وسیله واک ته ورسیدی ځکه چې هغه یې د بند څخه راخلاص کړی خو امیر شیرعلي خان پر کراره نه کښېښنستئ او د فتح محمد خان سره یو ځای سو او پوځ یې جوړ کړی، وروسته یې د شمال د لارې څخه پر کابل حمله وکړل ځکه چې هلته ازبک ورسره یوځای کېدل ځکه فتح خان ازبک وو.

دا هغه دوره ده چې دلته سید جمال الدین افغان هم سیاست ته داخلیږی په دې وخت کې امیرشیرعلي خان د خپل زوی یعقوب خان سره د کندهار دلاری حمله کوي او د محمد اسحاق څخه کندهار نیسي بیا محمد اسحاق ځي کابل ته او پلار ته وایي چې زما څخه یې کندهار ونیوی، بیا دوی د کندهار دخوا څخه ورځي او په غزني کې سره یو ځای کیږي او اعظم خان شکست خوري او بیا عبدالرحمن خان ځي بخارا ته او په داغه ترتیب سره په (۱۸۶۸ م) کال کې امیرشیرعلي خان واک ته رسیږي او انگریزان یې په دوهم ځل په رسمیت پیژني، ځکه چې نور یې په افغانستان کې مخالف نه درلودی.

## د محمد اعظم خان په واکمنۍ کې مهم مسایل

## ( له ۱۸۶۷ م کال څخه تر ۱۸۶۸ م کال پورې)

1) د سید جماالدین افغان راتگ سیاست ته.
2) منظم پوځ جوړ سو.
3) انگریزانو او روسانو هیڅ ونه ویل، ځکه د سیدجمال الدین افغان پلانونه ورسره وه.

## د امیر شیرعلي خان دوهم ځل واکمني

## ( له ۱۸۶۸ م کال څخه تر ۱۸۷۹ م کال پورې)

امیر شیر علي خان د کندهار له لاري حمله کوي او په غزني کې بری تر لاسه کوی او په (۱۸۶۸ م) کال کې کابل نیسي، واک یې پر ۳ برخو وېشل کیږي:

1) د انگریزانو سره اړیکې.
2) اصلاحات.
3) کورني اصلاحات.

**په اول ځل واکمني کې انګریزانو په رسمیت وه نه پیژندی خو کله چې دوهم ځل واک ته ورسیدی انګریزانو ته یې د عطامحمد خان په ذریعه چې د انګریزانو نماینده وو (لکه اوس چې زلمي خلیلزاد د امریکایانو نماینده دی په افغانستان کې) خبر ورکړ او هغو په رسمیت وپیژندی.**

**دا ځل یې ولي په رسمیت وپیژندی ولي یې اول ځل په رسمیت نه پیژندئ؟**

1) **کابینې په هندوستان کې تغیر کړی وو.**
2) **امیر دوست محمد خان په بخارا کې استوګن سو.**
3) **خپله په هندوستان کې مسلمانانو مظاهرې شروع کړي وې.**

**نو بیا په هندوستان کې د انبالي کنفرانس جوړ سو او امیر شیرعلي خان د ۱۰۱ نفرو سره ورغلي او ګډون یې پکښې وکړی.**

## د انبالي کنفرانس

**په دې کنفرانس کې لومړی د امیر شیرعلي خان غوښتنیوا وربدل سوې او له ده سره ځلور او د انګریزانو سره دوې غوښتنې وې.**

1) **د جمرود د تړونونو اصلاح کول (زه دا تړونونه د پلار په رقم نه درسره امضا کوم).**
2) **پاچاهي زما په کورنۍ کې په رسمیت پیژندل (یاني که زه نه وم زما زامن به وي نه زما وروڼه ځکه چې د ده په اوله واکمني کې یي د ده وروڼه ورته ودرول نو ده ویل چې نور به دا کار نه کوی).**
3) **د روسیې په مقابل کې د انګریزانو څخه یو معلومه اندازه پیسې (دا ځکه چې ده ویل زه به د روسانو څخه د فاع په کوم ځکه تاسو ور څخه بېره لری نوموړي ویل چې (یوسل و شل لکه) به ماته راکوی او زه به قرارګاه وي په جوړې کړم د روسانو د جنګ په وخت کې نو زه پیسي څه کوم او ویل یې چې هغه وخت ما ته پیسې ګټه نه کوي (خو په نورو**

**کتابونو کې ۶۰ لکه دي، ده ویل چې اوس یې ماته راکړی زه به پنځه کاله د خلکو مالیات معاف کړم دا ځکه چې زموږ خلک بیخې ډېر لوېدلي دي.**

4) **هر کال یوه معلومه اندازه پیسې (دلته یې هدف دا وو چې زما پلار ته مو هر کال معلومه اندازه پیسې ورکولې نو هغه به ما ته هم راکوی یو خو عمومي پیسې وې او دوهم بیا یو معلومه اندازه پیسې وې).**

**د انګریزانو د استازي (لارډمایو) غوښتنې د امبالې په کنفرانس کې:**

1) **د پلار د وختو تړونونه باید امضا کړي.**
2) **۳۰۰ کسان انګریزان به په افغانستان کې اوسیږي تر څو موږ ته د روسیې معلومات راکوي.**

**خو امیر شیرعلي خان ورسره و نه منل او راغلي خپل د هیواد په داخل کې یې کار شروع کړی ۸۰۰۰ منظم پوځ یې جوړ کړی د توپونو کارخانه (توپخانه بازار کې) جوړه کړل، پوهنتونونه یې جوړ کړل، حربي پوهنتونه جوړ سول، د خلکو د ذهنونو روښانه کولو لپاره یې مطبعه جوړه کړل، اخبار به چاپیدی، او خلک یې ډېر طرفداره سول یعني د اعظم خان هغه پلانونه یې عملي کړل کوم چې پکښې د سیدجمال الدین افغان مشوري وې، انګریزانو دوه واره بیا کوښښ وکړی چې خبري ورسره وسي ځکه نو د سملې کنفرانس جوړ سو (یو خو مخکې د سملې اعلامیه وه دا بیا د سملې کنفرانس دی).**

**په (۱۸۷۹ م) کال کې انګریزانو بیا پر افغانستان حمله وکړل او امیر شیرعلي خان په خدایي مرګ په داغه کال کې مړ کیږي لنډه دا چې د ده په اوله دوره کې د نوموړي دوو ورونو اعظم خان او افضل خان ورته مشکلات جوړول خو په دوهم ځل واکمني کې یې ورته زامنو ایوب خان او یعقوب خان مشکلات جوړول دوی ویل چې مشران موږ یو نو تا ولي زموږ کشر ورور (سردارعبدالله جان) ولیعهد وټاکي، امیر سردارعبدالله جان په (۱۸۷۴ م) کال کې خپل ولیعهد ټاکلی وو.**

## د امیر محمدیعقوب خان د سلطنت دوره

## ( د ۱۸۷۹ م کال د فیبروري د ۲۹ یا د مارچ د ۱ تاریخ څخه بیا د اکتوبر تر ۱۲ نیټې پورې)

دی د پلار تر مرګ یوه هفته وروسته واک ته ورسیدی او انګریزانو ته یې خبر ورکړ او هغو هم دستي په رسمیت وپیژندی، د هندوستان څخه یحي خان د انګریزانو د استازی په توګه کابل ته راغلي او ده ته یې وویل چې هغه تړونونه ومنه، او ده هم ورسره ومنل.

امیر یعقوب خان ولي ورسره تېر تړونونه ومنل؟

ځواب:

1) انګریزانو جنګ ته تیاری نیولي وو ځکه چې ( لاتر لمبرو ) واک ته رسیدلي دی دی طرفداره وو چې باید افغانستان ته ولاړ سو.

2) لامل داوو چې دی د پلار لخوا ۶ کاله په بند کښي وو نو حالات هیڅ نه ورته معلومیدل چې څه وکړي او د یحیي خان تر فشار لاندي راغلي وو، نو د مي د میاشتي پر ۲۶ تاریخ جلال اباد ته راغلل او د ګندومک تړون یې ورسره امضاء کړ.

### د ګندمک تړون ( ۱۸۷۹ م کال د مي د میاشتي ۲۶تاریخ):

د ګندمک د تړون مادې:

1. د جمرود اول او دوهم تړون یې ورسره امضاکې.
2. کرمه، پېښور، خیبر او سیالکوټ یې انګریزانو ته پرېښودل.
3. د انګریزانو ۳۶۰ سیاسي استازو ته یې اجازه ورکړل.
4. انګریز طبعه افغانانو ته یې عمومي عفوه وکړل.

بیا نو دغه ۳۶۰ تنه استازي د کېوناری تر مشرۍ لاندی د جولای پر ۲۴ کابل ته راغلل، کېوناری د کورنیو چارو وزارت په خپل لاس کې واخیستي اویوب خان چې خبر سو هرات ته راغلي د ایران څخه یې ځیني کسان کابل ته واستل او ورته ویل یې چې ورسي زما د ورور څخه معاشونه واخلي ، داود شاه ورته وویل چې اوس هغه هر څه د کېوناری په لاس کې دي کله چې دوی کېوناری ته ورتلل نو د کېوناری کسان د بیري څخه ټکان ورباندي کوي نو دوی هم خپل توپکونه راواخیستل او په (اکتوبر ) کې ورباندي حمله کوي او کېوناری د ۷۵ یا ۱۷۵ کسانو سره وژني د اکتوبر له ۱ څخه تر۴ پورې. بیا عمومي پاڅون وسو اویوه میاشت وروسته حمله پرې کوي یعقوب خان یې سیاسي بندي کړی او ایوب خان ورسره جنګ شروع کوي بیا امیر عبدالرحمن خان خبرېږی او ایوب خان خبر ورکوي چې سره یوځای به سوخو سره جوړ نه سول دواړو کابل ته حرکت وکړ، بیا پارلمان انګریزانو ته وایي چې نور مخ ته مه ځي خو هغه انګریزان چې افغانستان ته راغلي وه هغو ونه منل او جنګ ته یې ادامه ورکړل. دوی ویل چې:

1. ایوب خان شاید د ایران لپاره کارکوي.
2. د روسیي لپاره کار کوي او یا د فرانسي لپاره کار کوی.

په دې وخت کې انګریزانو عبدالرحمن خان واک ته ورسوی نو هغه وو چې په (۱۸۸۰ م) کال کې عبدالرحمن خان واک ته ورسیدی تر (۱۹۰۱ م) کال پورې.

## ایوب خان غازي

په (۱۸۷۹ م) کال کې د مارچ په میاشت کې هرات ته راغلي او د هرات والي توب یې په لاس کې واخیستي د اکتوبر پر ۲ خبرېږي چې عبدالرحمن د بخارا څخه راغلي دی نو هغه ته وایي چې موږ به سره یو ځای سو او وروسته چې په (۱۸۸۰ م)

کال کې د جون د میاشتي پر ۲۵ نېټه د میوند جنګ وه موښتئ په دې جنګ کې ۱۲۰۰۰ افغان غازیان او ۲۵۳۰۰ انګریزان سره اخته سول اول جنګ ۲ ورځې وو چې پکښې ۵۸۰ کسان شهیدان سول او ۱۲۰۰ ټپیان سول دا ځکه چې:
۱- دوی اوبه نه درلودلې. ۲- توپونه یې نه لرل نو وروسته یې پاته فوځ پر دریو برخو وویشي: ۱-د بغل د خوا څخه حمله وکړي. ۲- ځینوویل موږ به مخامخ حمله ورباندې وکړو نو په جنګ کې یوزای ۸۰ کسه انګریزان ژوندي پاته سول.

## د امیر عبدالرحمن خان د سلطنت دوره
## (له ۱۸۸۰ م کال څخه تر ۱۹۰۱ م کال پورې)

بیا عبدالرحمن خان جنګ وکړی ایوب خان یې بندي کړ او ایران ته یې وسپاری، تر(۱۸۸۸ م) کال پوري بیا ایران انګریزانو ته وسپاری او په (۱۹۱۴ م) کال کې په خدایي مرګ مړ سو، او په پېښور کې د سید حبیب په هدیره کې خاوروته وسپارل سو.
امیر عبدالرحمن خان په (۱۸۸۰ م) کال کي واک ته ورسیدی د دیکتاتور په حیث سو، ولایتونه ۷ سول، د روسانو او ایران سره سو د انګریزانو دوست پاته سو خو انګریزانو ۳۶۰۰۰ فوځ د افغانستان په شمالي سیمو کې ځای پر ځای کړل، امیر عبدالرحمن خان ته یې تر (۱۹۹۳ م) کال پوري هغه یو لک ور دوه لکه روپې کړلې بیا مارتمیر ډیورنډ په (۱۹۹۳ م) کال د اکتوبر پر ۲ نېټه د ۴۰ استازو سره افغانستان ته راغلي، او د نومبر پر ۱۲ یې د ډیورنډ تړون ورسره امضاء کړی چې ۷ مادې لري دغو سیمو ته چې د نفوذ ساحه ورته ویل کیږي انګریزانو ۳۶۰۰۰ پوځ وایستل او امیر عبدالرحمن خان ۹۶۰۰۰فوځ و استل.

## امیر حبیب الله خان
## (له ۱۹۰۱ م کال څخه تر ۱۹۱۹ م کال پورې)

مکتبونه یې جوړ کړل لکه حبیبي لېسه ، ټول واک یې په خپل لاس کې واخیستي اړیکې یې د نورو هیوادونو سره ټینګې کړلې.
)

## د ډیورنډ د لغوي دلایل زموږ لپاره

یادونه: یارانو زده یې کړی خو د جنګ لپاره نه بلکې د سولي لپاره، بهرنیان مه خوشحاله کوی بهرنیان یې نه راجوړوي هغه مو سره اخته کوي، که دوی زموږ او د ډیورنډ مسئله په ریښتني توګه سره راواخلي والله په یوه میاشت کې یې حل کې ځکه دا هر څه اسناد اوس هم د برتانیې سره سته.

### د لغوي دلایل

1. اول خو انګریزان نسي کولای چې د هندوستان پر ځای د بل هیواد سره تړون امضاء کړي ( دایې زموږ سره د هندوستان پر ځای امضاء کړې ده.
2. د دې کرښې د امضاء لپاره باید د دواړو هیوادونو پارلمانونه په جریان کې اچول سوي وای که څه هم چې په دې وخت کې افغانستان پارلمان نه درلودی خو باید لویه جرګه راغوښتل سوې وای او انګریزانو باید دا موضوع خپل پارلمان ته وړاندې کړې وای.

داسي نور ډېر دلایل هم سته چې هغه به بیا پر قراره دخیره ووایو، انشاءالله.

## و من الله التوفيق

## ثابت الله (واصل)